# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۲۹مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۱۹مه | ۷۰۹مه گڼه


## کاروبار


۴ مخ

### سوني

سوني په ډېرو سختو شرایطو کې وده کړې ده، د هیروشیما بمبار، جگړې او د جاپان کمزوری اقتصاد هغه سخت شرایط وو، چې یاده کمپنی پکې غوړېدلې ده.




## کرني وزارت: په هېواد کې د ستروسو د تولید کچه څه باندې ۱۳ زرو ټنو ته رسېدلې



کرني وزارت وايي چې په ۱۳۹۹یم کال کې د هېواد په کچه ۱۳ زره او ۲۴۳ مټریک ټنه ستروس، چې پکې کینو، مالټې، نارنج او لیمو شامل دي، تولید شوي دي. د یاد وزارت د شمېرو له مخې، ننگرهار د اووه زره ټنه کینو، مالټې، نارنج او لیمو په تولید سره د ستروسو تولیدوونکو ولایتونو د نوملړ په سر کې راځي. د سرچینې په خبره، د ننگرهار په نږدې یوزرو ۵۲ هکتاره ځمکه د ستروسو بڼونه جوړ شوي دي.

د نارنجو د تولید په برخه کې بیا کونړ له نورو ولایتونو مخکې دی. تېرکال له دغه ولایت څخه ۲۰۰۲ مټریک ټنه نارج تر لاسه شوي او د کونړ پر ۲۸۶ هکتاره ځمکه د نارنجو بڼونه شتون لري. د سرچینې په وینا، په وروستیو کلونو کې د کابل، تخار، بلخ او سرپل په ولایتونو کې هم د ستروسو ونو د نیالگیو اېښودل او پالل دود شوي دي.

# د ځواکونو وتل او اندېښنې؛

## حکومت د رامنځ ته کېدونکي وضعیت مدیریت ته پر تیاریو بوخت دی



۳

### ربښتیا هم یوازې دوه صفونه دي؟

۲ مخ

### له جینوا تر استانبوله د ازغو په څوکو!

۲ مخ

### نوې لوبه؛ پر سوله شکونه او له کورنۍ جگړې وېره

۳ مخ

## ولسمشر غني: د پاکستان لپاره د غوراوي وخت دی، دوستي یا دښمني

په ارگ کې د ملي امنیت منسوبینو ته د مډالونو د ورکړې په مراسمو کې پرون ولسمشر غني وویل، که افغانستان ناآرامه وي، نو پاکستان به هم ناآرامه وي.

غني زیاته کړې: «د دوستۍ او دښمنۍ انتخاب د دوی په لاس کې دی او د دوستۍ په صورت کې افغانستان تیار دی چې د سیمې او نړۍ هیوادونو د همکاریو په زیاتوالي کې له پاکستان سره همکاري وکړي.»

څو ورځې وړاندې د امریکا ولسمشر جو بایډن له افغانستانه د خپلو ټولو سرتېرو د وتلو نېټه د سپټمبر تر ۱۱مې اعلان کړه او بل لور ته د اورکم او اوربند له غوښتنې سره سره د روژې میاشتې له پیل سره بیا هم تاوتریخوالی دوام لري.

وړمه ورځ بیا د آذربایجان پلازمېنه باکو کې د نظامي گنجوي نړیوال مرکز لخوا جوړې شوې آنلاین غونډې ته ولسمشر غني وویل: «دا د طالبانو لپاره د غوراوي شېبه ده. آیا هغه سوله به غوره کړي چې پر مېز ایښې که (د جگړې له لارې) بریالي کېدل به غوره کړي؟»

د نظامي گنجوي نړیوالې موسسې کنفرانس کې د سیمې او نړۍ سیاسي اقتصادي څېرو گډون کړی و. د نظامي گنجوي نړیوال مرکز لخوا په دغه غونډه کې د سیمې د نورو هېوادونو گډونوالو هم د افغانستان د سولې پر مسئلې خبرې وکړې او د افغان سولې بهیر کې برې یې د ټولو په گټه وباله.

## وسلهوال خوځښتونه او د نوي خطر زنگ؛

## په وسلو سمبال پخوانیو مجاهدینو د اسماعیل خان په کور کې د خپلې بریا ورځ ونمانځله



۵ مخ

## وزیر خارجه پاکستان با حنیف اتمر درباره صلح افغانستان گفتگو کرد



شاه محمود قریشی وزیرخارجه پاکستان می‌گوید، با محمد حنیف اتمر همتای افغان خود در مورد روند صلح افغانستان بحث کردند.

قریشی دیروز در توییترش نوشته است که امیدوار است در نشست استانبول با آقای اتمر ملاقات کرده و بعداً از وی در اسلام‌آباد هم میزبانی کند.

او افزوده است که پس از برگزاری نشست استانبول، گفتگو در مورد روند صلح افغانستان میان دو طرف ادامه خواهد یافت.

انتظار می‌رود که نشست استانبول در ۲۴ ماه اپریل به میزبانی ترکیه برگزار شود.

حکومت افغانستان گفته است که فهرست اشتراک کننده‌های این نشست تکمیل شده، اما طالبان پس از اعلام ضرب‌الاجل جدید برای خروج همهٔ نیروهای امریکایی از افغانستان، گفتند تا خروج کامل نیروها امریکایی در هیچ نشستی در مورد افغانستان اشتراک نخواهند کرد.

این درحالی است کې چند روز پیش رئیس جمهور جو بایدن اعلام کرد که پس از اول ماه می سال میلادی خارج شدن نیروهای امریکایی از افغانستان اغاز خواهد کرد و تا ۱۱ سپتمبر ادامه خواهد یابد.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی



کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

## سرلیکنه

### رښتیا هم یوازې دوه صفونه دي؟

ولسمشر غني پرون گواښ کړی چې که څوک د جمهوریت په صف کې نه وي، نو په دولت کې ورته ځای نشته. ولسمشر غني ویلي: «یو د جمهوریت صف دی او بل د دښمن؛ هغوی چې د جمهوریت په صف کې نه ودرېږي، نو ورته په دولت کې ځای نشته». ولسمشر غني په داسې وخت کې دا خبرې کوي چې نه یوازې د دولت او سیاستوالو ترمنځ د سولې او نورو لویو مسایلو په اړه پراخ اختلاف شته، بلکې په دولت کې دننه د چارواکو تر منځ هم پر سوله او اساسي مسایلو ژور اختلاف دی.

لومړی خو دا خبره ناسمه ده چې یوازې دوه صفونه دي، هغه هم د جمهوریت او دښمن؛ ځکه چې د افغانستان لویه برخه خلک په دې یوه صف کې هم نه دي. د افغانستان لویه برخه خلک نه د دې مفسد او وراسته حکومت برخه دي چې ځان جمهوریت گڼي او نه هم د افغانستان دښمنان دي چې د خپل هېواد په ورانولو کې له پردیو سره کار وکړي. اشرف غني ولې ټل نظام او حکومت سره گډوي!؟ ولې باید جمهوریت او دا وروست، مفسد، ناکاره او بې کفایته حکومت سره گډ شي!؟ د افغانستان هېڅ وگړی د نظام مخالفت نه کوي او نه غواړي چې بیا بې‌نظامه او بې‌سیستمه شي، خو هېڅ افغان اوسنی ظلم، فساد، خیانت او ناوړه حالت هم نه مني. که اشرف غني او نور حکومتي چارواکي یوازې خپله واکمني جمهوریت گڼي او خپل هر کار ته د جمهوریت پوښ ورکوي او فکر کوي چې خلک پرې نه پوهېږي، تېروتنه کوي. خلک نظام او غله او مفسد واکمن سره بېلوي. خلک پوهېږي چې څوک د جمهوریت په نوم، د جمهوریت خلاف دریځ لري او هره ورځ د دې وطن شتمني لوټي او بهر ته یې وړي. خلک د جمهوریت او له بهره د څو راغلو مفسدینو او غلو ترمنځ توپیر کوي، چې نه د افغانستان په تاریخ او ارزښتونو پوهېږي او نه هم ورته ژمن دي. له همدې امله د دې گډول تېروتنه ده او د خلکو په سترگو کې د خاورو شیندلو هڅه ده. دا تصور باید اصلاح شي چې دوه صفونه دي، د مفسدینو او مظلوم ولس صف هېڅکله نه سره گډ و او نه گډېږي. عام ولس سوله او امن غواړي، نه د ظلم، فساد، خیانت او غلا ملاتړ کوي او نه هم غواړي چې یو ځل بیا بې‌سیستمه او بې‌نظامه شي.

له بله اړخه دا د جمهوریت اصل دی چې هر څوک کولی شي خپل غږ ولري او دا د جمهوریت په قوانینو کې صراحت لري. هر څوک حق لري چې د سولې او نورو لویو مسایلو په اړه متفاوت غږ او نظر ولري او آن د اساسي قانون د حکم پر اساس کولی شي چې د نظام د ډول د بدلون غوښتنه هم وکړي. هر څوک کولی شي چې له چارواکو جلا او متفاوت غږ ولري او هېڅوک دا حق نه لري چې دا غږ د دښمن صف وگڼي او غلی یې کړي. د متفاوت او مخالف غږ او نظر غلي کول او هغه د دښمن صف گڼل د جمهوریت خلاف عمل دی. هېڅوک دا حق هم نه لري چې نور خلک له ځان سره په هغه فساد او ناقانونیو کې شریک وگڼي، چې یوازې دوی کړي او خلک ورسره مخالف دي. له همدې امله د حق او باطل دا کرښه ایستل د منلو نه دي او دا یوازې یو دیکتاتورانه، ناقانونه او د جمهوریت خلاف عمل دی.

# له جینوا تر استانبوله د ازغو په څوکو!

لیکنه عبدالوحید وحید

په افغانستان کې د دښمني پاللو، د مقابل لوري د ماتولو او واک ته د رسېدو په موخه د مقدساتو نوم کارول، له پردیو څخه د مرستو ترلاسه کول، د قوم، ژبې، سمت او جنس په نوم سیاست کول له څو لسیزو راهیسې گټوره نسخه ده. زه په جهاد باندې ایمان لرم او فرض یې گڼم، خو له بده مرغه وایم چې د ځینو سیاستوالو لخوا د جهاد تر سپېڅلي نوم لاندې د واک پر سر جگړې منفوره یادونه مې اوس هم کړوي او ځوروي. د چهاراسیاب، بالاحصار، خیرخانې، کوټه سنگي، چنداول او کمپنۍ ملوک الطوایفي مو په یاد ده او له تکرار څخه یې وېره لرم. له تېرو څلورو لسیزو راپه دېخوا په ډېرو جگړو باندې د جهاد ټاپه لگېدلې، هر قاتل ځان ته د غازي او هر مخالف د مرتد، باغي، اشرار، شر او فساد د دین او هېواد د دښمن یا هم د روس، ایران، پاکستان او امریکا د اجیر په تور وژل شوی دی. د واک پر سر جگړه مقدسه نه ده. د کابل ویجاړوونکو جهادي ډلو د افغانانو سپېڅلې جهادي روحیه وځپله او مجاهدینو د اسلامي نظام د جوړولو او د نفاذ علمي وړتیا او سیاسي پوهه نه درلوده.

د جینوا په تړون کې د مجاهدینو په استازیتوب د پاکستان لاسلیک د مجاهدینو اصالت او خپلواکي تر پوښتنو لاندې راوسته. د نجیب د حکومت پر مهال د جلال اباد جگړه ستره تېروتنه وه. کمونستان د دوو میلیونو افغانانو قاتلان دي، نجیب د خاد د رییس په پوست کې یو افغان وژونکی و، خو د جمهور رییس په توگه ورسره د مذاکراتو نه کول د مجاهدینو ستره تېروتنه وه. په اویایمه لسیزه کې د ملگرو ملتونو په استازیتوب د بینن سیوان د سولې له بهیر سره په لومړي سر کې د نجیب بانې او پلمې، بیا د ځینو جهادي ډلو او پرچمیانو لخوا د دغه بهیر سبوتاژ کول، له ولس، جهاد او هېواد سره جفا وه. ځینو جهادي ډلو کابل ونړاوه، د ژبې او سمت په نوم د عصبیت سیاسي ویروس له خلقیانو او پرچمیانو څخه ځینو جهادي ډلو ته ولگېد، د بُن پرېکړې دغه خطرناک ویروس لا زیات کړ او اغېزې یې زموږ په ټولنیز وجود کې لاهم ژورې شوې. کرزی مصلحت خوښوونکی مشر و، خو دیني او ملي ارزښتونو ته د ژمنتیا کچه یې خورا لوړه وه. د اوسني حکومت د پراخ فساد له امله تر ستوني رسېدلي یو، بدلون او سمون ته اړتیا لرو، خو د نجیب د حکومت له نسکورېدو وروسته فاجعې د تکرار د مخنیوي لپاره ترهغو چې مو توان وي، د حکومت د نسکورېدو مخالفت کوو. سیاسي گوندونو په ولس کې خپل ټولنیز مقبولیت بایللی دی او بېرته ترلاسه کول به یې وخت وغواړي. د واک پر سر افغان وژونکي مجاهد نه گڼو، ارگ مېشتي نه زموږ په دیني معتقداتو باندې پوهېږي او نه هم ملي ارزښتونه پېژني. د واک مجنونان او تعهد ماتونکي شخصیتونه دي. د قوم، ژبې، سمت، مذهب، جنسیت او قشر په نوم سیاسي دوکانداري یوازې هغو سیاستوالو ته گټه رسوي چې ولس ته یې هېڅ نه وي کړي. په واک کې د پاتې کېدو لپاره ټول هېواد تنور ته اچوي .

طالبان یو دروند عیني واقعیت دی. د جگړې په ډگر کې برلاسي دي. فکري جگړه کوي، خو په تعبیرونو او کړنو کې افراط کوي. له هغوی سره له سولې کولو پرته حکومت مطلقاً ناکام دی. د نظام د سمون لپاره د هغوی اغېزمن رول لوبولو ته سخته اړتیا لرو، له اوسنیو چارواکو څخه د هغوی په مشرتابه کې پاک افراد زیات دي، مگر په سیاست کې د نورو ډلو په پرتله تجربه نه لري، پردي یې په اسانه غلطولای شي، په ترانو او احساساتو باندې چلېږي. په مصنوعي تشریفاتي کړنو غولېږي. د خلیلزاد د سلامونو ترشا د امریکا پټو موخو د درک وړتیا نه لري. پر نورو نیمگړتیاوو سربېره، په یوازې سر حکومت یقیناً نه شي کولای. د سولې لپاره یې له افغان حکومت څخه مخکې له امریکا سره د تړون لاسلیک کول سیاسي ځان وژنه وه.

علما زموږ د فردي او ټولنیزو معنوي رنځونو طبیبان دي، خو ستونزه یې دا ده چې دغه ډله د اختلافاتو ښکار شوې او د شرعي اختلافي مسائلو پر وړاندې د حل او فصل متفقه سرچینه نه لري، ځانونه فرداً فرداً واجب الاحترام او له هر ډول نیوکو مستثنا گڼي. بدبختي لا دا ده چې دغه استثنا ته شرعي رنگ ورکوي.

هغو سیاستوالو ته په ښه سترگه نه کتل کېږي، چې کورنۍ یې په بهر کې او خپله په کابل کې ناست وي. د دین، ډیموکراسۍ، ملت پالنې او توکم پالنې تر شعار لاندې د سیاسي دوکانداري کولو دنده ترسره کوي. زموږ د ستونزو یو بل لامل دلته د دوه گوني تابعیت درلودونکو اشخاصو واکمني ده. دغه خلک د کړکېچ پر مهال هېواد پرېږدي.

د ډنډې په زور حکومت کول خیال او محال دی، په افغانستان کې د واک د انحصار فکر لېونتوب دی، افغانان شهامت او شجاعت لري، خو سنجیده خلک نه دي. هر وخت احساساتي عمل کوي او همدغې ځانگړتیا ورته زیان رسولی دی. د نظامونو د نسکورېدو وړتیا لري، خو د جوړېدو هنر یې نه دی زده.

د ایرانیانو په اصطلاح (گذشته را صلوات) راځئ اوس څه کولو ته اړتیا لرو. په اوسنیو شرایطو کې د شخص د واک خبره راته اهمیت نه لري، خو له گډوډي څخه د هېواد د نجات لپاره د نظام دفاع خپله دنده گڼم. د زعامت ټاکل یوازې د ولسي ټاکنو له لارې شونی دی. له تېرو څلورو لسیزو راپه دېخوا دلته په روانه جگړه کې د ټولو ډلو ټپلو ترشا په روزنیزه، لوجستیکي، تسلیحاتي او مالي برخو کې د پردیو رول او برخه له لمر څخه روښانه ده. د خپلمنځي جگړو چل مو زده دی، خو د خپلمنځي سولې لپاره مو هر وخت نورو ته سترگې نیولې دي. د جینوا، مدینه الحجاج راولپنډۍ، گورنرهاوس پېښور، جبل السراج، ماهیپر، بُن او دوحې تړونونه یې ښې بېلگې دي.

که د سولې هدف مو ترلاسه کول غوښتل، نو په ټاکنیز سیستم کې بدلون او نوماندانو ته د وړتیا لپاره شرایط ایښودل اړین دي، د افغانانو ترمنځ جگړه قطعاً د حل لاره نه ده. د کمونیزم ببخ ته زموږ کمونستان کېناستل، اسلام ته د اسلام په نوم د سیاست کوونکو دلالانو زیان ورساوه، ډیموکراسي له غرب څخه را وارد شویو له ملي گټو څخه ناخبرو روڼ اندو وشرموله او بالاخره دلته افغانانو په سپېڅلو نومونو، د پردیو په مرسته د پردیو د گټو، په واک کې د پاتې کېدو او واک ته د رسېدو لپاره جگړه وکړه. افغانان یې ووژل او دغه لړۍ لاهم دوام لري.

موږ پوهېږو چې ځیني سیاستوال په واک کې د پاتې کېدو، واک ته د رسېدو لپاره د لاسته راوړنو او ځینې نور د مقدساتو ترشا ځان پټوي، خو جگړې ته پردي بچیان استوي. موږ یې وینو چې د جگړې پلویان په خپله په زرې (مرمۍ ضد) موټرو کې گرځي، د سیمټي دېوالونو ترشا اوسېږي او اولادونه یې په بهر کې خوندي ژوند کوي. موږ هغه لېوان پېژنو چې زموږ د دوکه کولو لپاره یې د پسونو پوستکي اغوستي دي، موږ ته معلومه ده چې فساد له څومره لوړ مقام څخه سرچینه اخلي، موږ یې وینو چې څوک اوبه خړوي او ماهیان پکې نیسي، موږ غل، مل او قاتل سره بېلولای شو، موږ رب ته په سجده نسکور او د چاپلوسي په موخه کاږه سرونه ښه پیژنو، موږ د لیلا مجنون او د شیدو مجنون سره جدا کولای شو، موږ په محراب کې د امام او شیطان ترمنځ توپیر کولای شو. پردي ماتولای شو، خو د خپل ټوټه ټوټه ټولنیز بدن د جوړولو وړتیا نه لرو. زموږ د تاریخ حافظه لاهم دومره وړتیا لري چې چا د دین ولس او هېواد د خپلواکۍ، بریا، سپېڅلتیا او پرمختگ لپاره خپلې ککرې قربان کړې او چا د خپلو موخو لپاره د شهیدانو په وینه باندې سوداگري وکړه، کامیاب او کامران شول.


اوس دا دی استانبول ته روانېږو. اړینه دا وه چې اوس مو د جگړو دروغجنه تقلبي بریا او د سولې عزت او عفت درک کړی وای. استانبول ته له ملي اجنډا، افغاني وقار او ایماني فراست سره تللي وای، خو له بده مذغه عیني واقعیت همداسې نه دی. هر چا طرحه جوړه کړې، هرچا خپل ځان او غوښتنې پکې د گوند، سمت، قوم، ژبې، نسل او جنس تر پوښښ لاندې ځای کړې دي. موږ له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې د ازغو پر سر مزلونه کوو. مشران مو د پردیو له خوا کارول شوي او ولس مو د مشرانو له خوا په مقدساتو غولول شوی دی.

زمونږ مفتوح او مغلوب هېوادونه لاهم په نړۍ حکومت کوي، خو موږ د پردیو خیرات ته پروپوزلونه جوړوو. پردۍ ډوډۍ ته ناست یو او پردیو مرستو ته پروپوزلونه جوړوو. په خپل غولي باندې ناستې، د شنو چایو څښل او د خپلو شخړو هوارول راڅخه هېر شوي دي.

## واشنگټن پوسټ: د افغان جگړې د دوام لامل له ترهگرو د پاکستان ملاتړ دی

واشنگټن پوسټ ورځپاڼې په یوه اوږده لیکنه کې ویلي چې په افغانستان کې د جگړې مخنیوی اسانه دی؛ خو له ترهگرو ډلو د پاکستان ملاتړ په دغه هېواد کې د جگړې د اوږدېدو لامل شوی دی.

ورځپاڼې دغه راز له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل ناسمه پرېکړه بللې ده او په خبره یې، که له افغانستان څخه امریکایي سرتېري بې مسوولیته او په بېړه ووځي، لرې نه ده چې په دغه هیواد کې به یوځل بیا کورنۍ جگړې رامنځته شي. ورځپاڼې د دوو ټکو یادونه کړې او زیاته کړې یې ده چې له همدې امله د ځواکونو وتل په بشپړه توگه غلطه پرېکړه ده. ورځپاڼه کاږي، رېښتیا دا دي چې امریکا د خپلو دوو



زرو او پنځه سوو سرتېرو له حضور پرته هم خپل لومړیتوبونه تر لاسه کولی شي؛ خو دا هم باید له پامه ونه غورځوي چې افغانستان هغه ځای دی چې په ډېرې اسانۍ د ترهگرو پر پټنځای او روزنځای او په ډېره کمه موده کې بېرته د امریکا لپاره پر ستر گواښ بدلېدای شي؛ نو له همدې امله اړتیا نه وه چې دومره ژر دې له افغانستان څخه ټول سرتېري وایستل شي.

د ورځپاڼې په خبره، ولسمشر جو بایډن باید پر خپله پرېکړه له سره غور وکړي او له افغانستانه خپل ځواکونه په هغه صورت کې وباسي، چې د دې هیواد کورني امنیت او امریکایي گټو ته کوم خطر نه وي متوجې.

# نوې لوبه؛ پر سوله شکونه او له کورنۍ جګړې ویره

لیکنه: طارق صابر

د امریکا ولسمشر جو بایډن تېره اونۍ اعلان وکړ، چې امریکایي ځواکونه به د سپټمبر تر ۱۱ مې، له افغانستانه وباسي. طالبانو ویلي، چې تر هغو پورې به د سولې په خبرو کې ګډون و نه کړي، څو چې ټول بهرني ځواکونه له هېواد څخه ونه وځي. د امریکا دریځ په ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله کچه ګڼ غبرګونونه پارولي دي.  حکومت له دې دریځه ملاتړ کړی او ویلي یې دي، چې د بهرنیو ځواکونو په وتلو کې به مرسته وکړي. د ولسي جرګې رییس میررحمان رحماني بیا ویلي، چې د امریکایي ځواکونو وتل به د بلې کورنۍ جګړې سبب شي. هند هم خپله اندېښنه، ښودلې ده. د دغه هېواد د پوځ مشر، جنرال بپن راوت ویلي چې ورانکارې ډلې ښایي د بهرنیو ځواکونو له تشې استفاده وکړي او پاکستان به په افغانستان کې لا نفوذ پیاوړی کړي. د روسیې د بهرنیو چارو ویاندې، ماریا زاخاروا څرګنده کړې، چې که امریکا د دوحې هوکړې له مخې خپل ځواکونه بهر نه کړي، ښایي جګړه بیا ګرمه شي او د بین الافغاني خبرو پر وړاندې لوی خنډ هم جوړوي. ایران بیا له افغان سولې خپل ملاتړ اعلان کړی او ویلي یې دي، چې تهران به له افغان حکومت سره د سولې په بهیر کې هر اړخیزه مرسته وکړي.
همدارنګه د امریکا د ملي امنیت پخواني مشاور مک ماسټر او د سنا ځینو غړو د جو بایډن دریځ غندلی او د شرم وړ یې بللی دی. هغوی ویلي، چې د ځواکونو وتل به امریکا ته سخت تمام شي. بلخوا پنټاګون اعلان کړی، چې افغان خاوره به له نږدې وڅاري او ترهګرې ډلې به د اړتیا په صورت کې له سیمې وځپي.
امریکا د دوحې په هوکړه کې له طالبانو سره منلې وه، چې خپل ځواکونه به تر مې میاشتې وباسي. اوس یې دا پروسه څو میاشتې نوره هم وځنډوله او لامل یې تخنیکي ستونزې بولي. دغه راز څو ورځې وروسته د ملګرو ملتونو په کوربه‌توب، د استانبول ناسته کېږي او طالبانو پکې له ګډون ډډه کړې ده. د امریکا له دې دریځ سره، د جګړې د شدت امکان شته. طالبان به یې د دوحې د هوکړې د نه عملي کولو په پار وکړي او حکومت ته به هم بهانه په ګوتو ورشي.
د سیمې ځینې هېوادونه (پاکستان-ترکیه) هم دې ته اړ شوي، چې له امریکا سره د سولې په خبرو کې مرسته وکړي، څو اقتصادي او سیاسي بندیزونه ترې لرې کړي. امریکا د سیمې هېوادونه او افغان سیاسي مشران په روانه نوې لوبه کې د خپلو ګټو پر محور لوبوي. له دې لوبې داسې برېښي، چې د جګړې ډګر به سوړ نه شي او پرته له نظامي حضور به یې مدیریت کړي. امریکا په مستقیم ډول له روانې جګړې ځان باسي؛ خو ګټه به یې ورته ورسېږي. د چین، هند، پاکستان ایران او روسیې متضادې ګټې به د دې سبب شي، چې په افغانستان کې نیابتي جګړه او لوبې دوام ومومي. امریکا به دې جګړې او لوبو ته له سیاسي لارې داسې لوری وټاکي، چې خپله ګټه یې تر ډېره پکې خوندي وي.  دغه هېواد له یوې خوا د سولې پر انتقالي دولت کار کوي او له بلې خوا له شته حکومت سره ژمنه کوي، چې د اړیکو نوی فصل به په ګډه پرانیزي. امریکا داسې لوبه پیل کړې، چې طالبان او حکومت څرګند دریځ نه شي نیولی او سیاسیون یې هم ګنګس کړي دي. حکومت د پاتې طالب بندیانو خوشي کول، خپله سره کرښه بللې وه او ټینګار یې کاوه، چې پخواني خوشې شوي طالبان، بېرته د جګړې ډګر ته ستانه شوي دي. اوس یې بیا پر حکومت منلې ده، چې پاتې طالبان خوشې کړي او له تور لېست یې وباسي. له دې لارې طالبانو ته شین څراغ ښکاره کوي، څو په خپل دریځ کې د امریکا په ګټه نرمښت وښیي.
پر طالبانو د حکومتي چارواکو توندې نیوکې، د دې ډلې نوي دریځ، د مقاومت تر نامه لاندې د ځینو خپلسرو ملېشو جوړول، د سیاسیونو اختلافات او د امریکا لخوا د دوحې هوکړې نه عملي کول، پر سوله شکونه ډېر کړي دي.
خو دا چې د بهرنیانو له وتلو سره به کورنۍ جګړه بیا پیل شي؛ د دې شونتیا اوس نه لیدل کېږي؛ ځکه د امریکا وتل، له شوروي اتحاد سره لوی توپیر لري. پخواني شوروي اتحاد په ایډیولوژیک او نظامي ډول پوره ماتې خوړلې وه. امریکا که څه هم له اقتصادي پلوه ستونزې لري، خو لا هم په ایډیولوژیک ډول ژوندی زبرځواک دی او خپله نظامي ماتې د سیاسي لوبې تر شا پټوي؛ څو خپل برم په نړۍ کې وساتي. که امریکا خپل سرتېري وباسي، مانا یې دا نه ده چې د شوروي اتحاد په څېر به افغانستان په پوره ډول پرېږدي. امریکا یوازې نظامي حضور په استخباراتي او سیاسي حضور باندې بدلوي. دغه راز کله چې شورویان وتل، ګڼو تنظیمي ډلو په قومي لحاظ نفوذ درلود او مسلح وې. اوس پخواني نظامي احزاب چې د کورنۍ جګړې سر لاري وو، په سیاسي احزابو باندې بدل شوي دي او شونتیا یې کمه ده، چې بېرته دې نظامي شي. پرته له حکومت او طالبانو په جګړه کې نور ښکېل لوري هم نه تر سترګو کېږي.
همدا راز پخوانی پوځ له دې امله دړې- وړې شو او جګړه یې کنټرول نه شوای کړی، چې بهرنۍ مرستې پرې بندې شوې وې، خو نړیواله ټولنه له افغان ځواکونو سره بیا- بیا د مرستې ژمنه کوي.
طالبانو هم بدلون کړی دی؛ کله یې چې د سولې پروسه له امریکا سره پیل کړه، سیاسي حللاره یې ومنله، که څه هم دا ډله نظامي مخینه لري. له پورته واقعیتونو داسې ښکاري چې پرته له ځواکمنې استخباراتي او سیاسي برنامې، ګرانه ده چې د ۹۰ یمې لسیزې داستان دې کټ-مټ تکرار شي. روان تبلیغات یوازې د عامه ذهنیت خرابولو په پار کېږي، چې ګنې د بهرنیانو په وتلو سره به کورنۍ جګړه وشي.
په هېواد کې د هرې لوبې اصلي قربانیان یوازې افغانان دي. روانه نوې لوبه هم امریکا پیل کړې او غواړي په پوره ډول یې وګټي. که حکومتي چارواکي، طالبان او سیاسي مشران په دې حساسو شرایطو کې خپلواک ګام واخلي، له شخصي ګټو تېر شي او رېښتینې قرباني ورکړي؛ تمه کېدای شي چې سوله وشي.

# د ځواکونو وتل او اندېښنې؛

## حکومت د رامنځ ته کېدونکي وضعیت مدیریت ته پر تیاریو بوخت دی



وروسته تر هغه چې د افغان حکومت د تمې پر خلاف بایډن تر سپټمبر پورې د ټولو سرتېرو د ایستلو اعلان وکړ، افغان حکومت په دې لټه کې دی چې وکړی شي د سرتېرو تر وتلو وروسته وضعیت کنټرول کړي. ولسمشر غني په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي چې د بهرنیو ځواکونو وتلو ته زمینه برابروي او تر څنګ یې له دغو سرتېرو سره د وتلو په برخه کې همکاري کوي. همدا راز د بهرنیو چارو وزیر د سیمې د هېوادونو د بهرنیو چارو له وزیرانو سره پر خبرو بوخت دی او هڅه کوي چې د دوی ملاتړ خپل کړي.
سره له دې چې ټرمپ غوښتل افغان جګړه په مسوولانه توګه پای ته ورسوي، خو په ناڅاپي توګه یې د ټولو سرتېرو د ایستلو پرېکړې په افغان حکومت کې چارواکي حیران کړل. بایډن ویلي چې د سرتېرو د ایستلو لپاره هېڅ شرط نه لري او نه هم د سرتېرو ایستل په شرایطو پورې تړي. امریکایي رسنیو ته په سپینه ماڼۍ کې سرچینو ویلي چې بایډن د سرتېرو د حضور یا ایستلو په اړه ان د لوړپوړو امریکایي نظامیانو مشورو  ته هم ارزښت ور نه کړ. دا غونډه چې شاوخوا لس ورځې وړاندې په سپینه ماڼۍ کې شوې وه، ان د امریکایي پوځ لوی درستیز ته د بایډن له لوري ویل شوي چې د خپلو سرتېرو ایستل په شرایطو پورې نه تړي.
اوس تازه ولسمشر غني ویلي چې دوی د امریکایي ځواکونو د وتلو لپاره منظم پلان لري. ولسمشر ځینو امنیتي منسوبینو ته په ارګ کې د مډالونو د ورکړې په مراسمو کې د خبرو پر مهال وویل، چې د بهرنیو ځواکونو وتلو ته یې بشپړ تیاری درلود او دوی به مرسته کوي چې دغه سرتېري په منظمه توګه له افغانستانه ووځي. ولسمشر غني د بهرنیو سرتېرو وتل د افغانستان په معاصر تاریخ کې یو مهم فرصت بللی دی او یو ځل بیا یې پر طالبانو غږ کړی چې له جګړو لاس واخلي او د سولې له بهیر سره یو ځای شي. ولسمشر غني په خپلو خبرو کې همدا راز یو ځل بیا پر پاکستان هم د سولې غږ وکړ او زیاته یې کړه، پاکستان باید په دې پوه شي چې افغانستان ته د سولې راتګ د دوی او ټولې سیمې په ګټه دی. بلخوا د ولسمشر ویانده بیا ادعا کوي چې حکومت له میاشتو راهیسې د بهرنیو سرتېرو د وتلو لپاره تیاری درلود او اوس هم له دغه بهیر سره همکاري کوي. د ولسمشر د ویاندې فاطمې مورچل په وینا: «جمهور رییس غني له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو اعلان ته په اشارې وویل، په معاصر تاریخ کې په لومړي ځل د افغانستان لپاره تر ټولو غوره فرصت برابر شوی، موږ له دوو کلونو راهیسې دې ورځې ته بشپړ چمتووالی لرو او د هغوی د وتلو لپاره مو هر اړخیز پلان برابر کړی. موږ د خپلې خاورې د ساتنې بشپړ چمتووالی لرو او د دې وخت رارسېدلی چې د افغانستان ملي حاکمیت په بشپړ ډول عملي شي او افغانستان خپله بې‌طرفي ثابته کړي.»
له دې ورهاخوا د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د سیمې د هېوادونو له ډیپلوماتیکو سرچینو او بهرنیو چارو وزیرانو سره په اړیکه کې دی. هغه په نږدې ورځو کې د ایران، پاکستان او هند د بهرنیو چارو له وزیرانو سره خبرې کړې دي. حنیف اتمر ته د هند د بهریو چارو وزیر ویلي چې د افغان حکومت تر څنګ ولاړ دي او تمه لري چې دلته د سولې روانه پروسه ژر تر ژره بریالۍ شي. د ایران د بهرنیو چارو وزیر بیا ویلي وو چې د امارت راګرځېدل د سیمې او افغانستان په ګټه نه دي، نو ځکه دوی هڅه کوي چې د سولې له بهیر په ملاتړ سره افغانستان ته یوه دایمي سوله راولي. د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بیا ویلي چې دوی د استانبول په غونډه کې ګډون کوي او هلته به له اتمر سره ګوري او هڅه کوي چې له افغانستان سره د سولې په برخه کې همکارۍ ډېرې کړي.
له دې ټولو سره بهرنۍ رسنۍ په دې باور دي چې د ځواکونو تر وتلو وروسته ښایي افغانستان په کورنۍ جګړه کې راګیر شي او طالبان به د افغان حکومت پر ضد خپلو عملیاتو او جګړو ته ادامه ورکړي. ځینې ان په دې باور دي چې ښایي د مذاکراتو د ناکامېدو په صورت کې افغان حکومت د رامنځ ته کېدونکي وضعیت د مدیریت وړتیا ونه لري، هغه څه چې افغان حکومت یې ردوي.

# ډاکتران: د پوتین د منتقد الکسي نوالنی روغتیايي وضعیت د اندېښنې وړ دی


روسیه کې د اپوزیسیون د بندي مشر الکسي نوالنی ډاکتران وایي، که نوموړي ته بېړنۍ روغتیایي پام ونشي، په نږدې ورځو کې مړ کېدای شي.
ډاکتران وایي، د نوالنی د وینې معاینات ښیي چې هغه هره ګړۍ د زړه او د بډوډو (ګردو) د فعالیت له درېدو سره مخامخېدای  شي.
ښاغلي نوالنی له اتلسو ورځو راهیسې د دې لپاره د نه خوړو اعتراض پیل کړی، چې د ملا د درد او د پښې د بې سدۍ د مناسبې درملنې غوښتنه یې رد شوې ده. د روسیې د اپوزیسیون مشر چې د ولادیمیر پوتین سرسخت منتقد بلل کېږي، له تېرې فبرورۍ د اختلاس د تورونو له کبله زندان کې دی.
اوس د هغه د شخصي ډاکترې اناستاشیه واسیلیوا په ګډون، څلورو ډاکترانو د زندان له چارواکو په یوه لیک کې غوښتي چې د نوموړي د عاجلې لیدنې اجازه ورکړي.
په دغه لیک کې چې ډاکترې واسیلیوا پر خپل ټویټر هم خپور کړی، راغلي چې د ښاغلي نوالنۍ پوتاشیم خطرناکې کچې ته رسېدلی دی.
په لیک کې راغلي: «د دې په پایله کې هره ګړۍ دا امکان شته چې د هغه بډوډې له سم فعالیت ولوېږي او د زړه د ناسم ضربان ستونزه ورته پېښه شي.»
که د یوه کس په هر لیتر وینه کې د پوتاشیم کچه له ٦.٠ ملي مول لوړېږي، نو بېړنۍ درملنې ته اړتیا لري؛ خو د نوالنۍ د وینې معاینات چې د نوموړي وکیل تر لاسه کړي، ښیي چې د هغه په هر لیتر وینه کې د پوتاشیم کچه ۷.۱ ته رسېدلې ده.
ډاکترانو د هغه د وینې معایناتو او وروستي مسمومیت ته په کتو د زندان له چارواکو غوښتي، چې په سملاسي توګه یې د کتو اجازه ورکړي.
۴۴ کلن الکسي نوالنی د ۲۰۲۰ کال اګست میاشت کې په عصب وژونکي کیمیاوي مادې (نوویچوک) د مسمومېدو له کبله د مرګ تر پولې ورسېدو؛ خو جرمني کې له درملنې وروسته ورغېد. هغه ادعا کوي چې د مسمومولو امر یې ولسمشر ولادیمیر پوتین ورکړی، خو کرملین ماڼۍ دا تور ردوي.

## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دورانی: ځکه چې هغه کلونه د امریکا لپاره کار کړی او د هغوی استخباراتي ادارې ته یې معلومات ورکړي، ان تر دې چې کېدای شي هغه اداره زموږ ملګرې اداره هم وي، خو بیا هم باید په زندان کې پاتې شي. د ډاکټر افریدي دویم جرم دا دی، چې هغه په دروغو د پولیو کمپاین پیل کړی و، په دې سره یې د پولیو نوم بد کړ او ماشومان ترې بې برخې شول. داسې چې د پولیو په ځینو کارکوونکو ان حملې هم وشوې.

دولت: د پولیو پروګرام په دروغو پیل شوی و؟

دورانی: هو، هغه په دروغو پیل شوی و. له همدې لارې هغه ټولو کورونو ته تللی و، دروازې یې ټکولې وې او پوښتلي یې وو ، که ماشومان وي، چې واکسین یې کړي.

دولت: نو له دې لارې هغه اسامه موندلی دی؟

دورانی: هو، له همدې لارې.

**۲۷**

### په افغانستان کې یو اړخیزې شخصي ګټې

سېنها: آیا کېدای شي افغانستان د پاکستان او هند تر منځ د اعتماد جوړونې ځای و اوسي؟

دورانی: یو وخت ما فکر کولو، یوازینۍ سیمه چې له دواړو هېوادونو سره په سمه همکاري کولای شي، افغانستان دی. خو ولې دا کار نه کېږي؟ دا ګڼ دلایل لري، ځکه هره خوا خپل لیدلوری لري.

دولت: احمد رشید ویلي، که چېرې پاکستان او هند په افغانستان کې سره جوړ شي، د کشمیر مسئله به ورته د کیک پرې کول وي.

په افغانستان کې زموږ پالیسي ما ته جالبه ده. کله چې زه په دنده کې وم، ماته داسې برېښېدله چې موږ خپلې ډېرې هګۍ د شمالي ټلوالې په ټوکرۍ کې اېږدو. شمالي ټلوالې، روسیې او ایران له موږ سره ان په وړو چارو کې هم مرسته کوله. اوس شمالي ټلواله نشته، خو روسان او ایرانیان لا هم شاوخوا شته. مګر موږ ورسره سمې اړیکې نه لرو.

د افغانستان کورنۍ جګړه به همداسې دوام لري، تر هغې چې اصلي ډله «طالبان» په خبرو کې ګډون و نه کړي. خبرې اړینې دي. اوس امریکایان هم همدې نظر ته رسېدلي دي.

موږ دا موقع له لاسه ورکړه، کله چې طالبان په واک کې وو، موږ هغوی په رسمیت ونه پېژندل او وروسته مو په (۲۰۰۰. ز) او (۲۰۰۲. ز) کلونو کې هم همداسې وکړل. موږ به هېڅکله هغه نفوذ چې پاکستان یې لري، پیدا نه کړو، ځکه پاکستان هلته ناسم دی. که موږ په افغانستان کې له طالبانو او نورو مشرانو سره اړیکې درلودلی، زموږ سره به یې مرسته کړې وه.

اوس امریکایانو هم منلې، چې پاکستان په دې خبرو اترو کې اړین دی. له پاکستان پرته ممکنې نه دي. دوی وایي، اصلي لوبغاړي له تاسې سره دي او تاسې د مهم وخت لپاره ساتلي دي.

ولې موږ په افغانستان کې مشکوک یو؟ ولې موږ یو له بل سره مرسته نه کوو؟

زه سپین وایم، سره له دې چې موږ ډېر څه کړي او ډېره پانګونه مو کړې ده، خو بیا هم موږ نیمګړي یو، نو ځکه دا سمه برېښي چې په ګډه کار وکړو. که زما کشر ورور په لوبه کې فعاله دی، نو ولې دا نه منم چې هغه بریالی دی؟ ښه ده چې مخ په وړاندې لاړ شو.

دورانی: موږ وخت نا وخت پر دې تورن یو، چې غواړو د خپل کور شا، د هند له نفوذه پاکه وساتو. موږ پوهېږو چې هند هلته اغېز لري او د هغوی کلتوري اغېزې ډېرې ښې دي. دا چې موږ د دې لپاره کار کوو چې د هند اغېزې هلته نه وي، زما په ګومان ښه کار نه دی. سره له دې چې ډېر خلک بیا فکر کوي دا کار سم دی.

اصلي موضوع امریکا ده. هغه غواړي چې د دوی د موخو په پام کې نیولو سره موږ، چې د کتاب په بله برخه کې هم ورته اشاره شوې ده، په طالبانو او حقاني شبکې پسې لاړ شو. د دوی په اند؛ چې د بهرني اشغال پر خلاف جنګېږي، اصلي ستونزه دا ده، چې که چېرې موږ دا کار وکړو او مخالف جنګیالي د پاکستان په خاوره کې وي هم، دا ستونزه به ډېره لویه وي نسبت هغې ته چې په (۲۰۰۴. ز) کال کې موږ په قبایلي سیمو کې پوځ وګمارلو او په پایله کې یې د پاکستاني طالبانو تحریک (PTT) رامنځته شو. هغوی چې د امریکایي اشغال پرخلاف جنګېږي، زموږ قومي مشران او عامه ولس ورسره خواخوږي لري. که چېرې موږ د هغوی پر خلاف وجنګېږو، نه یوازې دا چې موږ به خپل لوی شمېر خلک په خپل ضد را وپاروو، بلکې دغه ډلې چې موږ ته یې کوم ګوانښ نه دی پېښ کړی، هم زموږ پر ضد را ولاړې شي.

په (۲۰۰۱. ز) کال کې د امریکا په مشرۍ له ائتلاف سره د ملګرتیا له کبله دوی خوابدي، خو آماده دي چې هغه زموږ د مجبوریت له کبله هېر کړي. څو کلونه وروسته پاکستان د ډېرو فشارونو با وجود هڅه وکړه چې مرسته وکړي. که چېرې هغه جوړښت له لاسه ووځي، بیا به یې بېرته ترلاسه کول ستونزمن وي. موږ لا تراوسه هم د (۲۰۰۴. ز) کال د راپورته شو تاوتریخوالي له امله کړېږو. که چېرې داسې وشي، موږ به خپله خپل ځان ډېر خراب کړی وي، نسبت هغې ته چې امریکا او هند به مو خراب کړي.

**دوام لري...**

# سوني

حشمت الله نوري

سوني جاپانی څو ملیتي شرکت دی، چې مرکزي دفتر یې د جاپان توکیو ښار په میناتو نومي سیمه کې دی. د دغې شرکت فعالیتونه تر ډېره د الکترونیکي وسایلو تر جوړولو پورې محدود دي، خو تر څنګ یې په مالي برخو کې هم ځینې فعالیتونه لري.

په اوس وخت کې سوني په نړۍ کې د الکترونیکي وسایلو د تولید تر ټولو ستره کمپنۍ ده، خو د سامسنګ او ال جي تر څنګ، د نړۍ په هغو دریو غوره کمپنیو کې ولاړه ده چې تر ټولو ښه ټلوېزیزونه جوړوي. سوني کمپنۍ تر یوه نامه لاندې ډېرې نورې فرعي کمپنۍ هم لري، لکه د سامسنګ سرګرمۍ او کمپیوټري لوبو کمپنۍ، سوني پکچرز، سوني میوزیک، سوني فننشیال، هولدینز او د سوني د اړیکو کمپنۍ.

د ۱۹۴۶ کال د مې میاشتې په ۷مه ماسارو ایبوکا او آکیو موریتا دوو جاپانیو انجنیرانو په شریکه د توکیو تسوشین کوګیو په نامه شرکت جوړ کړ، موریتا هغه وخت ۲۳ کلن ځوان و، هغه دا مهال د فزیک برخه په اوساکا پوهنتون کې خلاصه کړې وه او د افسرۍ یوه دوره یې هم د جاپان په اردو کې تېره کړې وه.

هغه د جاپان د اردو پر تر ټولو مهمه څېړنیزه پروژه کې په دنده وګمارل شو، دغې برخې به هدایت شوي راکټ او داسې تجهیزات جوړول چې په شپه کې یې جګړه او لید آسانه کولو. د موریتا لپاره دا ډېره په زړه پورې وه چې د ټیم په اجرایي برخه کې یې دنده تر سره کوله. ایبوکا هم د سمندري ځواکونو د فني انجنیر په توګه په همدې ټیم کې فعال سړی و. تر هغه وخته یې تر ټلوو ښه اختراع د سمندري بېړیو لپاره د یوې وسیلې جوړول وو، هغه همدارنګه د هوایي ځواک لپاره یوه داسې آله جوړه کړې وه چې تر اوبو لاندې بېړۍ یې په نښه کولی شوی.

ایبوکا او موریتا د لومړي ځل لپاره د ۱۹۴۴ کال په مني کې د جګړې د څېړنو د کمېټې د غړو په توګه له یو بل سره لیدلي وو. همدا لیدنه وروسته د دې سبب شوه چې سوني شرکت جوړ شي. دوی همدا چې سره ولیدل په هېڅ وجه یې فرصت له لاسه ور نه کړ، ژر لاس پکار شول خپل ملاتړ یې پیدا کړل او د هغوی له پیسو په استفادې یې د ۱۹۴۶ کال په لومړیو کې سوني شرکت جوړ کړ.

دغو دوو کارپوهانو غوښتل چې نوي او د استفادې وړ وسایل جوړ کړي. د همدې کار لپاره یې د خپلې اړتیا وړ ټکنالوژي جوړه کړه. دوی به چې هر څه ته اړتیا لرله کوښښ یې کاوه چې جوړ یې کړي. دا فکر تر نن پورې په سوني کمپنۍ کې شته، دوی کوښښ کوي چې نوي شیان جوړ کړي.

د سوني کمپنۍ لومړنی محصول هېڅ وخت بازار ته نه دی وړاندې شوی، خو سوني کمپنۍ د لومړي ځل لپار د غږ د ثبت او خپرولو وسیله جوړه کړ. په ۱۹۵۰ کال کې یې بازار ته وړاندې کړه چې د جاپاني بازارونو پام یې ځان ته واړاوه.

ایبوکا او موریتا په هغه وخت کې سل کارکوونکي لرل، خو تر دې مهاله یې شرکت کوچنی او بې ارزښته و، په همدې وضعیت کې د ۱۹۵۳ کال په یوه ورځ هر څه بدل شول، په دې دورځ دواړو مشرانو نیویارک ته سفر وکړ او په دې توګه یې له بل شرکت څخه د ترانزیستورونو د جوړولو جواز تر لاسه کړ او په تولید یې پیل وکړ. په دې توګه د اردو یوه افسر له دویمې نړیوالې جګړې اته کاله وروسته د ۲۵ زرو ډالرو په ورکړې د نړۍ مهمه اختراع خپله کړه، نیوز ویک مجله لیکي، هغه داسې سړی و چې له جاپاني سوداګره یې د خلکو انتظار بدل کړ.




څلور کاله وروسته په ۱۹۵۷ کال کې ایبوکا او موریتا په نړۍ کې د لومړنۍ جیبي راډیو د پلور کار پیل کړ، دوی غوښتل چې د خپلې کمپنۍ لپاره یو نوی نوم پیدا کړي. نو د همدې لپاره یې سوني نوم خوښ کړ، چې د ځوانه‌کې هلک په مانا دی. د دوی موخه دا وه چې ګواکې دلته څو ځوانان دي چې په پوره انرژۍ د نړۍ د راتلونکو اختراعاګانو لپاره کار کوي.

له نامه وروسته سوني کمپنۍ امریکا ته مخه کړه، دواړه مشران په دې پوهېدل چې د نړۍ د راتلونکو اختراعاتو بازار به امریکا وي، نو د همدې لپاره یې د امریکا په بازارونو کې هڅې پیل کړې.

له هغې په را وروسته کلونو کې نورې اختراعاګانې هم وشوې، د نړۍ لومړني ټلوېزیونونه جوړو شول، چې سوني ستره ونډه په دې برخه کې لرله. نورې اختراعګانې هم وشوې، خو داسې نه وه چې د سوني کمپنۍ یوازې بریاوو ته مخه وه، دې کمپنۍ ځینې ماتې هم تجربه کړې دي. یو وخت چې موریکا او ایبوکا د ویډیو د ضبط وسیله جوړه کړه، نو دوی ډېر مغرور شول، آن تر دې چې هغه یې تر ډېره بازار ته نه وړاندې کوله، خو د دوی حریف شرکت پاناسونیک له موقع استفاده وکړه، همدا وسیله یې جوړه کړه، خلکو ته یې وړاندې کړه چې سوني کمپنۍ ستره ماتې تجربه کړه. د پاناسونیک اختراع په نړۍ کې لومړی مقام خپل کړ، خو وروسته یې بیا دا تېروتنه تکرار نه کړه، د سي ډي او ډیسک په تولید کې یې کوښښ وکړ چې داسې تېروتنه ونه کړي او دا اختراع یې په خپل نامه ثبت کړه.

د شلمې پېړۍ په وروستیو کلونو کې، سوني کمپنۍ د موسیقي سي بي ایس کمپنۍ واخیسته، په هغه یې ستره پانګونه وکړه، وروسته یې د هالیوود یوه کمپنۍ د کلمبیا پکچرز په نامه واخیسته او همدا وو چې جاپان د ټولې نړۍ پر مخ د خپل اقتصاد قدرت وځلاوه. د جاپان لپاره سوني د دې بریا ستر لامل و، خو دې بریا ډېر دوام ونه کړ، جاپان په یوه لوی بحران کې غرق شو، په دې وخت کې موریتا چې مخ پر زړېدو و، وویل چې که د جاپان اقتصاد ډېرې نیمګړتیاوې ولري، نو یوه نیمګړتیا به یې دا وي چې له غرب سره یې په ځینو اقتصادي مسایلو کې ورته والی ښودلی دی.

په ۱۹۵۰ کال کې امریکایي ځوانانو د راډیوګانو اخیستلو ته مخه کړه، چې د دغه شرکت یولک راډیوګانې وپلورل شوې، په ۱۹۵۵ کال کې ۵ لکه رادیوګانې وپلورل شوې او دا بازار همداسې مخ پر ودې روان و.

سوني کمپنۍ همداسې مخ پر ودې وه، په ۲۰۰۱ کال کې یې د سوني د یوه بل جاپاني شرکت، سویډي اریکسون په نامه د سوني اریکسون موبایلونو په تولید لاس پورې کړ، چې وروسته یې په ۲۰۱۲ کال کې یاد شرکت په مکمله توګه واخیست. یاده کمپنۍ د سوني د موبایلونو د جوړولو کمپنۍ ده، چې د وروستیو شمېرو له مخې تر ۸ زره ډېر کسان په دې برخه کې پر کار بوخت دي.

سوني په ډېرو سختو شرایطو کې وده کړې ده، د هیروشیما بمبار، جګړې او د جاپان کمزوری اقتصاد هغه سخت شرایط وو، چې یاده کمپنۍ پکې غوړېدلې ده، خو همدې کمپنۍ د جاپان نوم په نړۍ کې وځلاوه او نړیوالو ته یې وښودل چې دوی د څومره لوړ کار ظرفیت لري. محصولات یې قوي او د باور وړ دي، د وروستیو شمېرو له مخې، د سوني کمپنۍ کلنی پلور ۷۲ ملیارده ډالره دی.

سوني کمپنۍ ځینې مهم محصولات تولید کړي دي، چې نن هم په نړۍ کې خپل ځای لري. د بېلګې په توګه، په ۱۹۸۲ کال کې یې د ویډیو لپاره د بتاکم په نامه فیلم جوړ کړ، یو کال وروسته یې ۹۰ میلي متره کوچنی ډیسک جوړ کړ، چې وروسته وروسته یې پلور او جوړښت پراخ شو او د سي ډي ښه یې غوره کړه. سوني یوازې په پورته یادو شوو برخو کې فعالیت نه کوي، د موسیقي په برخه کې سوني میوزیک د نړۍ تر ټولو ستره کمپنۍ ده. دا کمپنۍ په جاپان او نړۍ کې د کنسرتونو د جوړولو ستره شبکه هم لري.

وروسته په ۱۹۹۳ کال کې چې سوني د کمپیوټري لوبو بازار ته دننه شوه، په دې برخه کې یې ستر بدلونونه راوستل، چې د همدې لپاره یې پلې استېشنونه جوړ کړل چې نن هم په نړۍ کې د سوني کمپنۍ د لوبو دا سیستم تر ټولو قیمته او ښکلی دی.

د ۲۰۰۵ کال په جون میاشت کې سوني کمپنۍ کونیکا مینولتا کمپنۍ واخیسته، دغې کمپنۍ د کامرو د تولید په برخه کې فعالیت کاوه، دې کار سوني ته دا اجازه ورکړه چې دی اس ال ار الفا ۱۰۰ کامره جوړه کړي، دا کامره یې په ۲۰۰٦ کال کې معرفي کړه، چې د نړۍ د هغه وخت تر ټولو پر مختللې ټکنالوژي پکې کارېدلې وه. د سوني کامرې نن هم د نړۍ تر ټولو پر مختللې کامرې دي، نه یوازې ثابتې کامرې جوړوي؛ بلکې د موبایلونو او ټابلېټونو لپاره هم لېنزونه تولیدوي. د نړۍ د موبایل جوړولو سترې کمپنۍ اوس هم خپلې کامرې له سوني کمپنۍ اخلي.

سوني کمپنۍ پر یادو برخو سربېره، د کمپیوټرونو په تولید کې هم خپله ونډه لري. د لپټاپ تر ټولو قوي بېټرۍ تولیدوي چې پر خپل ځان سربېره یې پر نورو کمپنیو هم پلوري.

سوني کمپنۍ په ۲۰۰۷ کال کې اعلان وکړ چې غواړي د او ال ای دي پر ټکنالوژۍ سمبال ټلوېزیونونه د جاپان بازارونو ته وړاندې کړي. د دغو ټلوېزیونونو لومړنی ماډل اکس ای ال و چې ۱۱ انچه ښیښه یې لرله، وروسته یې په ۲۰۰۸ کال کې ایچ ډي ۲۷ انچې ټلوېزیون بازار ته وړاندې کړ. سوني کمپنۍ دمګړۍ د نړۍ تر ټولو پرمختللې او قیمتي کامرې جوړوي او همدارنګه اوس هم د جاپان ډېرې الکترونکي کارونه تنظموي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۶۵ |
| € | ۹۲,۲ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۰۶۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۷ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# ایا په افغانستان کې شل کاله جگړه په دومره قربانیو ارزېده!؟

لیکنه: فرانک گارډنر

امریکایي او برېټانوي ځواکونه له شل کلن حضور وروسته له افغانستان وځي. د امریکا ولسمشر جو بایډن روانه میاشت اعلان وکړ چې په افغانستان کې به خپل ۲۵۰۰ تر ۳۵۰۰ زره پاتې ځواکونه د راتلونکې سپټمبر میاشتې تر ۱۱مې وباسي. برېټانیا هم چې اوس یې په افغانستان کې ۷۵۰ سرتېري پاتې دي، همدا لار تعقیبوي.

د بهرنیو ځواکونو د وتلو لپاره اعلان شوې نېټه د پام وړ ده. له دغه تاریخه پوره شل کاله وړاندې د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر په ۱۱مه القاعده شبکې په امریکا کې بریدونه وکړل چې د امریکا او متحدانو پښه یې افغانستان ته راکښله. د امریکا د یرغل په پایله کې د طالبانو واکمني نسکوره شوه او القاعده یې هم په لنډمهاله توگه له دغه هېواد و ایستله.

په افغانستان کې د امریکا شل کلن پوځي حضور او امنیتي ښکېلتیا د سر او مال درنه بیه درلوده. په دې موده کې په افغانستان کې له ۲۳۰۰ ډېر امریکایي سرتېري وژل شوي او تر ۲۰ زرو ډېر نور ټپي شوي دي. دغه راز ۴۵۰ برېټانوي سرتېري هم په افغانستان کې مړه او سلگونه نور ټپي شول.

خو تر ټولو ډېر زیان پخپله افغانانو گاللی دی. پر افغانستان د امریکا له یرغل راهیسې تر ۶۰ زرو ډېر افغان امنیتي پرسونل او د همدې شمېر نږدې دوه برابره ملکي افغانان وژل شوي دي. د امریکا لپاره د دې جگړې مالي لگښت نږدې یو ټرېلیون ډالر اټکل شوی. اوس دغو ځاني او مالي لگښتونو ته په کتو، د دې پوښتنې وخت را رسېدلی چې ایا دا جگړه په دومره لگښت او قربانیو ارزېدله؟ او ځواب یې په دې کې نغښتی چې تاسې یې له خپل نظره څرنگه ارزوئ؟

راځئ یوه شېبه تم شو او پر دې فکر وکړو چې لوېدیځ ځواکونه اصلاً د څه لپاره افغانستان ته ولاړل او څه یې غوښتل چې ویې کړي؟

د القاعده په نوم ترهگر اعلان شوي سازمان چې مشري یې د دې ډلې کارېزماتیک مشر اسامه بن لادن کوله، له ۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱ز کال پورې د پنځو کلونو په موده کې په افغانستان کې ځان ته خوندي ځای برابر کړ. دې ډلې په افغانستان کې د ترهگرو روزنیز مرکزونه پرانیستل چې د نړۍ له لروبر څخه شاوخوا ۲۰ زره رضاکار تونډلاري جنگیالي ورته د روزنې لپاره جلب شول.

القاعدې دغه راز پر سپیو باندې د زهرجنو کېمیاوي گازونو تجربې هم پیل کړې. دې ډلې په ۱۹۹۸ز کال کې په کینیا او تانزانیا کې د امریکا پر سفارتونو هممهاله بریدونه وکړل او ۲۲۴ کسان یې ووژل چې ډېر یې افریقایي وگړي وو.

القاعدې په افغانستان کې پرانیستې لاس فعالیت کاوه؛ ځکه د طالبانو د حکومت له خوندیتوبه برخمنه وه. طالبان د شوروي اتحاد د سرو لښکرو تر وتلو او په افغانستان کې له ویجاړوونکې کورنۍ جگړې وروسته په ۱۹۹۶ز کال واک ته رسېدلي وو.

امریکا هڅه وکړه چې طالبان د دوی د دودیز ملگري سعودي عربستان په وسیله د القاعدې شړلو ته قانع کړي، خو دوی انکار وکړ. د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر د ۱۱مې له بریدونو وروسته نړیوالې ټولنې یو ځل بیا له طالبانو وغوښتل چې د دغو بریدونو مسوول کسان ور وسپاري، خو طالبانو بیا هم انکار وکړ. امریکایي او برېټانوي ځواکونو تر دې وروسته د طالبانو پر وړاندې مقاومت کوونکې شمال ایتلاف ته د ملاتړ او همکارۍ لاس وغځاوه او دغو ځواکونو د کابل پر لور پرمختگ پیل کړ. په پایله کې طالبان له واکه گوښه او القاعده شبکه تر کرښې هاخوا پاکستان ته وتښتېده.

جگپوړو امنیتي سرچینو روانه اونۍ بي بي سي ته وویل چې القاعده شبکې تر هغې را وروسته له افغانستان یو نړیوال ترهگریز برید هم نه دی پلان کړی، نو اوس که د نړیوالې ترهگرۍ د مخنیوي اهدافو ته راشو، لوېدیځ ځواکونه او د هغوی پوځي حضور د دغه هدف ترلاسه کولو کې بریالي شوي دي، خو که په دې جگړه کې د افغان امنیتي ځواکونو او ملکیانو ته پر اوښتو او لا اوښتونکو پراخو زیانونه سترگې پټې کړي، نو دا به یوه په بشپړ ډول خامه محاسبه وي.

شل کاله اوړي، خو دغه هېواد لا هم سوله نه ده لیدلې. د وسله وال تاوتریخوالي د عمل ډلې څېړنې ښیي چې په ۲۰۲۰ز کال کې د نړۍ تر بل هر هېواد د افغانستان ډېر وگړي په چاودنو کې وژل شوي دي. القاعده، اسلامي دولت (داعش) او نورې وسله والې ډلې له منځه نه دي تللې، لا خوځښتونه لري او له شک پرته چې د پاتې بهرنیو ځواکونو کوچېدل به یې لا وهڅوي.

زما یادېږي چې د بي بي سي یوه باتجربه همکار فیل گوډوین په ۲۰۰۳ز کال کې د پکتیکا ولایت په یوه لرې پرته سیمه کې د امریکایي ځواکونو د یوې اډې د جوړېدو پر مهال د ائتلافي ځواکونو د حضور د پایلې او میراث په اړه شک څرگند کړ .

ښاغلي گوډوین هغه مهال ویلي وو: «طالبان به په شلو کلونو کې دننه بېرته د سویل پر پراخو برخو کنټرول ولري.»

داسې ښکاري چې طالبان به د دوحې له خبرو او د جگړې ډگر کې له پرمختگونو وروسته اوس د افغانستان د راتلونکې په اړه پرېکړه کې ټاکونکی رول ولري، خو د برېټانیا د پوځ لوی درستیز جنرال سر نیک کارټر چې په افغانستان کې یې څو دورې دنده ترسره کړې، وایي: «نړیوالې ټولنې یوه مدني ټولنه رامنځ ته کړې چې د طالبانو د وگړنیز مشروعیت محاسبه یې بدله کړې ده.»

نوموړی زیاتوي: «دا هېواد اوس د ۲۰۰۱ز کال په پرتله په ښه دریځ کې دی او طالبان هم تر پخوا ډېر روڼ اندي شوي دي.»

خو له اسیا ارام سمندر بنسټ څخه ډاکټر ساجان گوهېل بیا یو څه بدبینانه لیدلوری لري. نوموړی وایي: «رښتینې اندېښنه موجوده ده چې افغانستان یو ځل بیا د ۱۹۹۰یمې لسیزې په څېر د بنسټپالنې د روزنې په مرکز واوړي.» دا هغه اندېښنه ده چې گڼو لوېدیځو استخباراتي ادارو هم شریکه کړې ده.

ډاکټر گوهېل وړاندوینه کوي: «افغانستان ته به له اروپا د ترهگریزې روزنې لپاره د بهرنیو جنگیالیو د ورتگ نوې څپه پیل شي، خو لوېدیځ به یې پر وړاندې هېڅ هم نه شي کولی؛ ځکه وار له مخه به یې افغانستان په بشپړ ډول پرېښی وي.»

دا کار ښایي په بشپړ ډول حتمي هم نه وي. دا په دوو عواملو پورې تړلی: لومړی دا چې ایا فاتح طالبان به القاعده او داعش ته تر خپل کنټرول لاندې سیمو کې د فعالیت اجازه ورکړي؟ دویم دا چې نړیواله ټولنه به په داسې مهال کې چې په دغه هېواد کې سرچینې و نه لري، د دوی پر وړاندې د مقابلې لپاره څومره چمتووالی لري. د همدې لپاره د افغانستان راتلونکی امنیتي تصویر یو څه خړ او مبهم دی. دا هېواد چې لوېدیځ ځواکونه ترې راتلونکی اوړی په بشپړ ډول وځي، لا د امنیت له خوندیتوبه لرې دی. ډېرو کمو کسانو ښایي د ۲۰۰۱ز کال د سپټمبر له یوولسمې وروسته دا وړاندوینه کوله چې دغه ځواکونه به تر دوو لسیزو په افغانستان کې پاتې کېږي.

کله چې په دې موده کې افغانستان ته خپلو گڼو بېلابېلو ژورنالیستکي سفرونو او هلته له امریکایي، برېټانوي او د متحدو عرب اماراتو ځواکونو سره بوختیاوو ته گورم، نو تر ټولو ډېر یوه خاطره سترگو ته راته درېږي.

د پاکستان له پولې په شاخوا ۶ کیلومتره واټن کې د امریکایي ځواکونو په یوه پوځي اډه کې چې ختیځ دېوالونه ترې راتاو وو، له ستورو تر ډک اسمان لاندې د مهماتو پر صندوقونو ناست وو. ټولو د جرمني له رامستېن څخه د سرې غوښې په را راسېدلو بوټیو مېله جوړه کړې وه او طالبانو لا پر دې اډه د توغندیو برید نه و پیل کړی. یوه ۱۹ کلن سرتېري چې له نیویارک ایالت څخه و، راته دا کیسه وکړه چې څنگه یې دې ځای کې یو شمېر ملگري له لاسه ورکړي دي. نوموړي وویل: «که دا ځل زما وار و، زما وار به وي». بیا یو چا گیتار را واخیست او راډیوهیډ (کریپ) سندره یې زمزمه کړه. دا سندره په دغو ټکو پای ته ورسېده: «زه دلته څه بد کوم؟ زه د دې ځای اړوند نه یم.»

زما یادېږي چې هغه مهال مې په همدې تړاو فکر کاوه چې نه، احتمالاً موږ د دې ځای اړوند نه یو.

## وسله‌وال خوځښتونه او د نوي خطر زنگ؛

# په وسلو سمبال پخوانیو مجاهدینو د اسماعیل خان په کور کې د خپلې بریا ورځ ونمانځله

افغان سیاسیون وایي، افغان حکومت او طالبان باید د بهرنیو ځواکونو له وتلو مخکې یو سیاسي توافق ته ورسېږي او هیواد ته یوه تلپاتې سوله راوړي.

پخوانی جهادي مشر محمد اسماعیل خان دا خبرې په داسې وخت کې کوي، چې تازه د امریکا ولسمشر جو بایډن له افغانستان څخه د ټولو امریکایي سرتېرو د وتلو نېټه اعلان کړې ده.

هغه دا خبرې پرون په هرات کې هغه غونډې ته وکړې، چې د نوموړي په کور کې د مجاهدینو د بریا د نمانځنې په موخه جوړه شوې وه.



دې غونډې ته پر جهادي قمندانو سربېره ډېر نور وگړي هم راغلي وو، چې له ډېریو یې سره وسلې هم وې. دا لومړی ځل نه دی چې په عامو غونډو کې له خلکو سره وسلې لیدل کېږي؛ بلکې له دې مخکې هم د وردگو ولایت په بهسودو ولسوالۍ کې محلي قمندانو خپل نظامي ډلې جوړې کړې او په خبره یې دوی به خپل نظامي قوتونه لا پیاوړي کړي.

دا غونډې او په یادو غونډو کې له خلکو سره وسلې په داسې حال کې لیدل کېږي، چې د ډېریو کورنیو او بهرنیو رسنیو د راپورنو له مخې، که افغان حکومت او طالبان د امریکایي سرتېرو له وتلو مخکې یو سیاسي توافق ته ونه رسېږي، لرې نه ده چې هیواد به یو ځل بیا د کورنۍ جگړو پر میدان بدل شي.

په رسمي غونډو کې د ناقانونه وسله‌وال کسانو گډون او د خپلو نظامي قوتونو نمایشونه هغه څه دي، چې هیواد له بې ثباتۍ سره مخ کولی شي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

واېګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په واېګل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۲۹مه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۱۹مه | ۷۰۹مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

دوشنبه ۱۴۰۰/۰۱/۲۹
د سهار اذان ۰۳:٤٥ د ماښام اذان ۰٦:۳۳
رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲۲ | ۳۰ | ۳۰ | ۲۶ | ۲۸ | ۲۲ |
| ۱۰ | ۱۳ | ۱٦ | ۱۵ | ۱۵ | ۱۲ |


شرعي وختونه: سهار ۰۳:۴۹ | لمر ختل ۰۵:۱۸ | ماسپښین ۱۱:۵۴ | مازیګر ۰۴:۳۵ | ماښام ۰۶:۲۷ | ماخوستن ۰۷:۵۳

## نړۍ



ډاکټران: د پوتین د منتقد الکسي نوالني روغتیايي وضعیت د اندېښنې وړ دی
۳

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له دریو میلیونو او ۲۵ زرو کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۴۱ میلیونه او ۳٦۵ زره او ۴۳۸ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۲۵ زره او ۴۴۷ کسان مړه شوي او له ۱۲۰ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۲میلیونه او ۳٦۱ زره او ۲۸۰ ته رسېدلي او ۵۸۰ زره او ۷۵٦ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۴ میلیونه او ۷۸۸ زره او ۱۰۹ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۳ میلیونه او نهه سوه زره او ۱۳۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۲٦۰ زره او ۱۸۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او ۷۰۲ زره او ۱۰۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. برېتانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.


## چک جمهوریت له خپلې خاورې د ۱۸روسي ډیپلوماتانو د ایستلو اعلان کړی

چک جمهوریت له خپلې خاورې د ۱۸ روسي ډیپلوماتانو د ایستلو اعلان کړی دی. دا پرېکړه وروسته له هغه شوې، چې د چک جمهوریت چارواکو روسان په جاسوسۍ او په ۲۰۱۴ز کال کې د پلازمېنې پراګ جنوب ختیځ ته په زلین ښار کې د مهماتو په یوې زېرمه کې په یوه چاودنه کې په لاس درلودلو تورن کړل، خو روسیې په یادې پېښه کې لاس لرل رد کړي دي.

د یادونې ده چې په یادې چاودنه کې دوه تنه وژل شوي وو او ګڼ نور ټپیان شوي وو. د چک جمهوریت د کورنیو چارو وزیر یان هاما چیک چې د دغه هېواد د بهرنیو چارو سرپرستي هم کوي، په پراګ کې یوې خبري غونډې ته ویلي: «د چک د بهرنیو چارو وزیر په توګه ما پرېکړه وکړه چې په پراګ کې د روسیې د سفارت ټول هغه کارکوونکي وباسم، چې زموږ د استخباراتي اداري لهخوا په ښکاره د روسیې د استخباراتي اداري افسران پېژندل شوي دي. د روسیې د سفارت ټول ۱۸ غړي دې په ۴۸ ساعتونو کې له چک جمهوریت څخه ووځي.»

په ورته مهال مسکو بیا له چک جمهوریت څخه د خپلو ډیپلوماتانو د ایستلو د پایلو په اړه خبرداری ورکړی او ټینګار یې کړی چې د یاد هېواد دغه اقدام به بې ځوابه پاتې نه شي.

## رد پیش‌شرط جنرالان امریکایی دربارۀ خروج نیروها از افغانستان




روزنامۀ نیویارک تایمز امریکا گزارش کرده‌است که جو بایدن، رئیس‌جمهور امریکا دیدگاه‌های جنرالان ارشد این کشور را مبنی بر «خروج مشروط» نیروهای امریکایی از افغانستان تا ۱۱ سپتامبر، رد کرده‌است.

بر بنیاد این گزارش، رئیس‌جمهور بایدن حدود ده روز پیش از اعلام رسمی خروج کامل نیروهای امریکایی از افغانستان، نشستی را در کاخ سفید برگذار کرد و به رهبران بلند پایۀ نظامی از تصمیم‌اش برای بیرون کشیدن کامل سربازان امریکایی تا یازدهم ماه سپتمبر هم‌زمان با بیستمین سالگرد حمله‌های یازدهم سپتمبر، خبر داد. در گزارش آمده‌است که در این نشست، لوید آستین وزیر دفاع، و جنرال مارک میلی، رئیس ستاد مشترک امریکا حضور داشتند و جنرال میلی به خواست بایدن برای بیرون کشیدن کامل سربازان امریکایی گفت که آن را عملی خواهد کرد. در گزارش افزوده شده‌است که میلی در این نشست به رئیس‌جمهور بایدن گفت که «آیا این تصمیم درست است آقای رئیس‌جمهور؟» گزارش می‌افزاید که مقام‌های ارشد نظامی می‌خواستند از بایدن بخواهند که خروج نیروهای امریکایی از افغانستان را مشروط بسازد؛ اما آقای بایدن به خواست آنها متقاعد نشد. در همین حال، بر بنیاد این گزارش، رئیس‌جمهور بایدن به مشاوران نظامی خود گفته‌است که هیچ پیش‌شرطی برای خروج نیروهای امریکایی از افغانستان، گذاشته نخواهد شد.


## ژونـــد

## شیاومي د ګېمونو لپاره خپل ځانګړی موبایل معرفي کړ



د شیاومي کمپنۍ یوې بلې ځانګې چې بلک شارک نومېږي، د ګېمونو لپاره له ځانګړي او پیاوړي ځیرک موبایل څخه پرده پورته کړه. دغه ځیرک موبایل بلک شارک۴ نومول شوی دی. دغې کمپنۍ د بلک شارک۴ لړۍ له دوو نویو ځیرک موبایلونو څخه چې بلک شارک۴ او بلک شارک۴ پرو نومول شوي، پرده پورته کړه. دغه دواړه ځیرک موبایلونه ډېرې او مختلفې بڼې لري، چې له همدې امله له ۳۸۲ تر ۸۱۵ امریکایي ډالره بیه لري. د بلک شارک۴ عادي بڼه چې ٦ ګېګابایټ رم لري، ۳۸۲ امریکایي ډالره بیه لري او د پرمختللې بڼې چې ۱۲ ګېګابایټ رم لري، بیه بیا ۸۱۵ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده. د دغو دواړو ځیرکو موبایلونو په شاتنۍ برخه کې څلور کامرې ورکړل شوي دي. په بلک شارک۴ پرو کې ٦۴ مېګاپکسله وړتیا لرونکې اصلي کمره او په بلک شارک۴ کې بیا ۴۸ مېګاپکسله وړتیا لرونکې اصلي کمره ورکړل شوې ده. په دواړو ځیرکو موبایلونو کې ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې او له ٦ ګېګابایټ څخه تر ۱۲ ګېګابایټ رم لرونکې بڼې به ولري.

## تر پېشلمې پورې د ویښ پاتې کېدو تاوانونه



د روژې په میاشت کې ډېر کسان دا عادت خپلوي، څو تر پېشلمې پورې ویښ پاتې شي، خو دغه عادت یې پر روغتیا ناوړه اغېزې لري. یو ښه او ارام خوب د انسان د بدن او دماغو لپاره ډېر اړین وي؛ ځکه چې یو ښه او ارامه خوب له انسان سره مرسته کوي، ترڅو په رواني او بدني ډول ښه فعالیتونه ترسره کړي. د نارټ وېسټرن د پوهنتونونو له څېړنو معلومه شوې، هغه کسان چې د شپې تر ناوخته پورې ویښ وي، د هغو کسانو په پرتله ډېر له ناروغیو سره مخ کېږي، چې د شپې وختي ویده کېږي او سهار ژر پاڅېږي. د څېړنې له مخې ویل کېږي چې د دا ډول کسان په منځنۍ عمر کې د نورو بېلابېلو رواني او بدني ناروغیو ښکار هم ګرځي. څېړونکي وايي، هغه کسان چې دنده یا کار لري، نو پکار ده چې وختي ویده شي، ترڅو په هغه اندازه خوب پوره کړي چې بدن یې ورته اړتیا لري، د خوب لپاره په هره تېروتنه د روغتیا لپاره زیانمنه تمامېږي، نو اړینه ده چې د ښه ژوند لپاره لږ تر لږه اووه ساعته خوب وکړل شي.



عزیزي بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې تي ام او ماسټر ډېبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ اړتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او 50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالۍ چمتو کوي.

www.azizibank.af
1515